## الدرس الأول
### احكام الباس

## اولنئ درس
### د لباس (جامو) أحكام

اسلام د خائسته والی او د صفائی دین دی ، مسلمانانو ته د صفائی او خائسته والی تعلیم ورکوی بلکه الله تعالی لباس ددی دپاره پیداء کړیدی چی انسان ورباندی خپل ستر پرده وکړی ، او خائسته ښکاره شی ، د الله تعالی ارشاد مبارک دي، [يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآتِكُمْ وَرِيشًا وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ ذَٰلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ]{الأعراف:٢٦} ترجمه : اے د آدم اولاد ! مونږ ستاسو دپاره لباس نازل کړیدی، چی ستاسو عورتونه پټوی ، او خائسته والی دی پکښې ، او د پرهیزګارئ لباس ډیر غوره دی ، دا د الله تعالی د طرفنه نښئ دی چی خلق تری نصیحت واخلی .لباس کښې اُصول دادی چی هر قسمه لباس اچول جائز دی مګر د کوم لباس نه چی شریعت منع کړی وی د هغي استعمال حرام دي لکه : ١-دومره تنګئ او نرئ جامی چی د انسان عورت او د بدن هر اندام پکښې ښکاری .٢-د کافرانو او دبدکرداره خلقو سره په لباس کښې مشابهت کول .
٣-یالباس کښې د قیمت او مقدارپه لحاظ سره فضول خرچی یا تکبر کول .٤-د سړو دپاره ریخم او سره زر (سونا) حرام دی ، البته د ښځو دپاره جائز دی . د علی رضی الله عنه نه روایت دي:
**يَقُولُ إِنَّ نَبِيَّ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَخَذَ حَرِيرًا فَجَعَلَهُ فِي يَمِينِهِ وَأَخَذَ ذَهَبًا فَجَعَلَهُ فِي شِمَالِهِ ثُمَّ قَالَ«إِنَّ هَذَيْنِ حَرَامٌ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِى»** سنن ابی داود (٤٠٧٨) ترجمه : نبی کریم ﷺ ښی لاس کښې ریښم او چپ لاس کښې سَره زر واغستل ، اووئی فرمائیل : چی دا دوه څیزونه زما د امت په نارینو باندېحرام دی ، البته د سپین زر استعمالول جائز دی ، کوم لباس کښې چی د ساه لرونکي څیزونو تصویران وی د هغی اغوستل د مسلمان دپاره حرام دی ، که جامه کښې د انسان یا حیوان تصویر وی او که زیوراتو کښې وی د هغی اغوستل حرام دی .
عائشه رضی الله عنها فرمائیلی دی ، چی ما یوه تکیه واخستله چی په هغی کښې تصویران جوړ شوی وو ، کله چی د نبی کریم ﷺ نظر مبارک ورباندی ولګیدو نو دروازه کښې اودریدو ، دننه راداخل نه شو ، عائشه رضی الله عنها فرمائي : چی ما د نبی کریم ﷺ په مخ مبارک کښې نفرت محسوس کړو ، ماووئیل : زه الله تعالی ته توبه اُوباسم او د الله درسول ﷺ حکم ته ځان تسلیموم ، ما نه څه ګناه شوی ده رسول الله ﷺ وفرمائیل : څه وجه ده دی تکیه لره ، ما ووئیل چی دا ما ستا دپاره اخستلئ ده چی ته ورته ډډه لګوی او آرام ورباندی کوی ، رسول الله ﷺ وفرمائیل : ددی تصویرانو جوړونکو ته قیامت کښې عذاب ورکولی شی ، او ورته به ووئیلئ شی چې ژوندی کړئ هغه څه چی تاسو جوړ کړی دی ، بیا ئی وفرمائیل چی ملائک هغه کور ته نه داخلیږی چی هغی کښې تصویران وی .